**مطبوعاتي اعلاميه**

**د رياض ناسته؛ د غزې او لبنان پر وړاندې د مسلمانانو د حکامو د ښکاره خيانت ثبوت**

د غزې د مظلومو خلکو پر وړاندې د غاصب او جنايتکار صهيونيستي رژيم د ويجاړوونکې جګړې تر ۴۰۰ زياتې ورځې کېږي؛ دا جګړه تر دويمې نړيوالې جګړې وروسته ساری نه لري. په دغو جنايتونو، وژنو او ويجاړيو پسې، په لبنان کې هم وحشتونه پيل شول. سره له دې چې د اسلامي خاورو حکام په رياض کې راټول شوي او يوه غونډه يې وکړه چې دوی يې «استثنايي» بولي. خو د دغې غونډې لاسته راوړنې کمزورې او بې ارزښته پرېکړې وې چې له ښکاره خيانت پرته بل نوم نه شي ورکول کېدی.

وروسته له دې چې د فلسطين له خلکو د هر اړخيز سياسي، ډيپلوماټيک او نړيوال ملاتړ غوښتونکي شول؛ د ملګرو ملتونو له امنيت شورا يې وغوښتل چې پر غزې د بريدونو د درولو او يهودي رژيم ته د وسلو د لېږد د مخنيوي لپاره الزام راوړونکی پرېکړه‌ليک صادر کړي. خو دا غوښتنې يوازې د کاغذ پر مخ پاتې شوې. ځکه چې نه يې د پلي کولو لپاره کوم پلان وړاندې کړ او نه يې کوم مشخص عملي پلان په پام کې ونيوه. د دوی غوښتنو ان د خلکو د لاريونونو له شعارونو څخه هم لږ اغېز درلود؛ ځکه چې په لاريونونه کې غږونو په ميدانونو او سړکونو کې انګازې کوي او کله کله د استعماري هيوادونو سياسيون غبرګون ته اړباسي. خو د دغې غونډې غوښتنې يوازې د کنفرانس د سالون د ديوالونو دننه وې او بهر يې هيڅ اغېز نه درلود.

له دغو بې ارزښته او کمزورو غوښتنو وروسته -چې د غزې او لبنان پر وړاندې د عربو او عجمو حکامو ښکاره خيانت ښيي- ګډونوالو خپل اصلي ماموريت پيل کړ؛ هغه ماموريت چې د خپلو استعماري اربابانو، په ځانګړي ډول امريکا لخوا ورکړل شوی و او هغه د خيانت، تړاو او تسليم کېدو د پلانونو بيا ترويجول دي.

دغو نا اهله حکامو په غزه او لبنان کې د يهودي رژيم د وحشتونو د غندنې په اړه له څو ظاهري جملو وروسته له دغه وحشي رژيم سره د سولې پر اهميت ټينګار وکړ او د فلسطين د خاورې د درې پر څلور برخې د اشغال په منلو سره يې د دوو-دولتونو د حللارې ملاتړ وکړ. د دغه پلان له مخې فلسطيني دولت بې سيادته، بې وسلې او بې عزته او د ۱۹۶۷م کال د جون مياشتې ۴مې د پولو پر اساس جوړېږي.

اوس د دې وخت دی چې اسلامي امت دا خاين حکام د واک له ګدۍ راوغورځوي او خپل له لاسه تللی حاکميت بيا ترلاسه کړي. د دغې موخې د تحقق يوازينۍ لار دا ده چې د مسلمانانو د پوځونو مخلصين حزب التحرير ته د نبوت پر منهج ثاني راشده خلافت د تاسيس لپاره نصرت ورکړي. هغه خلافت چې صهيونيستي رژيم به له منځه يوسي، ټول فلسطين به ازاد او د امت غېږې ته به يې بيا راولي. که داسې ونه شي؛ امت او ځواکونه به يې د عزيز او جبار الله پر وړاندې مسول وي او د قيامت په ورځ به د خپلې چوپتيا او اسلام او مسلمانانو ته په نصرت ورکولو کې د پاتې راتګ په سبب ځواب ويونکي وي. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ الله اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ﴾** [توبه: ۳۸]

**ژباړه:** *«ای مومنانو! پر تاسې څه شوي، چې کله درته وويل شي: د الله په لار کې (جهاد ته) ووځئ؛ نو پر ځمکه درانه کېناستئ (سستي کوئ)؛ ايا د آخرت پر ځای مو دنيوي ژوند خوښ کړی!؟ نو (پوه شئ چې) له دنيوي ژونده ګټنه د آخرت په پرتله خورا لږه ده.»*

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر**

۱۴۴۶ هـ.ق کال د جمادي الاول ۱۲مه

۲۰۲۴م کال د نومبر ۱۴مه

د صدور ګڼه: ۰۴۷/۱۴۴۶